## بیړني ټیلیفونونه

د یوې بیړنۍ پېښې په صورت کې باید تاسو ۹۹۹ ته زنګ ووهئ. تاسو باید دغه اسانتیا د دې له پاره وکاروئ چې یوه چټک غبرګون ته د اړتیا پر وخت له پولیسو سره اړیکه نیسئ، لکه په داسې وخت کې چې یو جرم ترسره کېږي یا دا چې کوم چا ته خطر پېښېږي.

د ۹۹۹ اسانتیا د اور او نجات، د امبولانس د اسانتیا او پولیسو د اړوندو ټیلیفونونو په وړاندې غبرګون ښيي. له دې امله، تاسو باید په لومړي سر کې هغه خدمت مشخص کړئ چې ورته اړتیا لرئ او بیا هغه ژبه وښیئ چې تاسو پرې خبرې کوئ. چټک خدمتونه کولی شي چې د ژبې د ټیلیفوني خدمتونو له لارې په ۱۷۰ ژبو کې ترجمانان وړاندې کړي.

## غیربیړني حالتونه

که تاسو اړتیا لرئ چې له پولیسو سره اړیکې ونیسئ خو پېښه بیړنۍ **نه وي**، تاسو باید په لاندې ډول پرمخ لاړ شئ:

د غیربیړنیو ټیلیفونونو نمبر ته (چې ۲۴ ساعته، په اونۍ کې ۷ ورځې کار کوي) ټیلیفون وکړئ: ۰۱۶۴۳۳۲۶۳۲۶

## د جرمونو ایسارونکي

د جرمونو ایسارونکي یوه خپلواکه خیریه اداره ده چې په ټوله متحده پاچایۍ (یونایټېډ کینګډم) کې د دې له پاره کار کوي چې د جرمونو په وړاندې مبارزه وکړي. که تاسو د یوه جرم په هکله داسې څه معلومات لرئ چې غوره ګڼئ چې په محرمانه او داسې ډول یې وړاندې کړئ چې نوم مو پټ پاتې شي، د ۰۸۰۰۵۵۵۱۱۱ وړیا ټیلیفون نمبر ته زنګ و وهئ.

## د ترهګرۍ د کړنو په هکله راپور ورکول

که تاسو فکر کوئ چې داسې یو شخص مو لیدلی چې شکمن عمل ترسره کوي، یا که تاسو یو موټر، بې خاونده ګنډه یا کڅوړه و وینئ چې ښایي یو ګواښ وي، چټک ګام واخلئ او **۹۹۹** نمبر ته ټیلیفون وکړئ.

ترهګري ګواښ دی او د خوښۍ ځای په کې نشته. خلک باید په ټولو وختونو کې ځیر او له خپل چاپېریال څخه خبر وي. که کوم څه تاسو ته شکمن او بې ځایه ښکاري له خپل هوش څخه کار واخلئ او پولیسو ته ټیلیفون وکړئ.

## د ترهګرۍ ضد چټک لین: ۰۸۰۰۷۸۹۳۲۱

که تاسو د کوم چا د فعالیتونو یا چلند په هکله شکونه لرئ، یا کوم معلومات لرئ چې ښایي دغو چارو پورې اړه ولري د ترهګرۍ ضد چټک لین ته په ۰۸۰۰۷۸۹۳۲۱ نمبر ټیلیفون وکړئ. پرېږدئ چې پولیس تصمیم ونیسي چې آیا هغه معلومات چې تاسو یې لرئ مهم دي. څه چې ښایي په خپله غیرضروري معلوم شي کولی شي چې په یوه لاپراخه پلټنه کې ګټور معلومات وړاندې کړي.

که تاسو د ترهګرۍ د ممکنو عملونو په هکله کوم معلومات لرئ، د ترهګرۍ ضد محرم چټک لین ته ټیلیفون وکړئ: ۰۸۰۰۷۸۹۳۲۱

د دې له پاره چې د ممکنو بمي بریدونو یا حتمي خطرونو مخه ونیسئ، ۹۹۹ نمبر ته زنګ و وهئ.

د ژباړې اسانتیاوې

که تاسو د دغه وېب سایټ یوه برخه یا سند یوې بلې ژبې ته په ژباړل شوي، آډیوي، بریلي یا لویه بڼه چاپ شوې غواړئ، هیله ده چې یو ایمیل له لاندې معلوماتو سره مل وي راولېږئ:

- اړتیاوړ خپرونه/برخه
- اړتیاوړ ژبه
- نوم او تخلص
- ادرس
- ایمیل
- تاسو څه غواړئ چې معلومات څنګه درولیږل شي؟

که ته چیرته د کلیولینډ پولیس په خدماتو یا سلوک باندے، کوم چه تا سره شوے دے، خوشحاله یا اسوده نه  یئے نو د خپل خفګان د احساساتو په حقله کلیولینډ پولیس ته د اي میل استولو له هغے فورمه/فارم له پاره په  پیوسته رابطے باندے عمل وکړه-
(http://www.cleveland.police.uk/contact-us/dissatisfaction.aspx)
 یا په بل صورت کښي ته زمونږ کنټرول روم سره په دے لمبر*01642 326326* رابطه وکړه- مونږ دا مقصد لرو چه هرکله تاسو مونږ له د خپل خفګان اظهار وکړئ نومونږ په *24* ساعتو کښي د هغے تصدیق وکړو- اما، دا یاد ساته که ستا اي میل په انګلیسي  کښي نه وي او په بله ژبه کښي وي نو د هغے ترجمه به وخت اخلي- که ستا مسله د ناګهاني حالت وي نو دا سروس استعمال کښي مه راوله – په ناګاه حالاتو کښي *999*  ته زنګ ؤوهه-

که ته چیرته زمونږ د عملے د نفر خلاف رسمي داد (شکایت) کول غواړي، د هغے له پاره دا وړاندے نوشته شوے ډیرے لارے دي؛

- زمونږ کنټرول روم سره په دے پورته نوشته شوي لمبر رابطه کول،
- د کلیولینډ پولیس پروفیشنل سټینډرډ ډیپارټمنټ سره په دے لمبر*01642 306834* (د دوشنبے نه تر جمعے د سحر*8* نه تر ماښام*4*)،
- یا که ته پښتو کښي نور معلومات غواړي نو د انډیپینډنټ پولیس کمپلینټس کمیشن *(IPCC)*ویب سائیټ له ورشه-

دا*(IPCC)* ویب سائټ په مختلفو ژبو کښي سره د{پښتو}مکمل معلومات لري، چه ته به څرنګه شکایت کوے- د انډیپینډنټ پولیس کمپلینټس کمیشن *(IPCC)* مکمل طور باندے د پولیس نه ازاده / خود مختاره ده- دوي ددے خبرے یقیني ګرزولو مسولیت لري چه د پولیس د ماموړانو او د پولیس عملے خلاف  شکایتونه صحیح طریقے سره سر ته ورسیږي او چه د بد سلوکئ د ادعا/ زعم او داد رسئ  له پاره مناسب بندوبست وکړي-